سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۰/۹/۹

# نظارشورا جهاد ، مقاومت او د شهید اوونۍ یرغمل نیولې

نظارشورا نه یوازې د کابل حکومت یرغمل نیولی، څه چې یې زړه غواړي هغسې پرې کوي او د خپلې خوښې ملنډې پرې وهي، بلکې پرهغه څه چې په افغانستان کې پرې د جهاد او مقاومت نوم اېښوول شوی «هغه جهاد چې مشرۍ یې د امریکا امنیتي سلاکار بریژینسکي په غاړه درلوده او هغه مقاومت چې واګې یې د کا جي بي په لاس کې وو» هم برمته کړې دي. د کرزي دولت د شهید پنوم اوونۍ چې د کرزي فرمان له مخې هرکال دې ورځو کې لمانځل کیږي یوازې د مسعود د درواغجنو کړیاوو او برياوو د نندارې لپاره اعلان کړې ده.

کومه ویرغونده چې سږکال هم د سپټمبر په اتمه د کابل پولیتخنیک د انګړ په لویه خیمه، د شهیدانو په سپېڅلي نوم جوړه شوې وه په حقیقت کې ټوله د مسعود او نظارشورا د ځانګړنو لپاره بېله شوې وه.

دې غونډه کې پخوا پشان د مسعود پلویانو هڅه وکړه چې د مسعود په مشرۍ د نظارشورا په ټولو جنایتونو پرده واچوي. دوی کوښښ کوه چې د مسعود د ستاینې په سیالی او وزلوبه کې یو بل مات کړي. نړدې وو چې له مسعوده پیغامبر جوړ کړي او د پنجشېر درې څخه مکه یا مدینه. غونډه کې دا چې د مسعود او رباني د مشرتوب په مهال څنګه د افغانستان پلازمېنه کابل وران شو، په لسګونو زره کابلیان شهیدان شول او په لکونو نور افغانان پاکستان، ایران او نړۍ ته کډوال شول، د مجاهدینو ناستو مشرانو یوه هم یاده ونکړه. عبدالرب رسول سیاف ایله دومره وویلی شول د مجاهدینو مشران چې څونه شتمنۍ لري، هغه د جهاد غنایم دي او دا شتمنۍ خدای دوی ته ورکړې « به خدا دادگان ستيزه مکن، که به خدادادگان خدا داده است ». د هغه په ګومان د جهاد فضایل لا نورهم زیات دي چې دولت باید له دې فضایلو څخه مجاهدین برخمن کړي او په دولت کې پوره ونډه ورکړي. نوموړي دا هم زیاته کړه اوس ددې وخت راغلی چې دولت باید د کار لپاره د هر مجاهد دروازه ټک ټک کړي. که مجاهدین په دولت کې غوړه ونډه ونلري، دولت له مجاهدینو پرته بویه هیڅ هم نشي کولای.

د جهاد نورو ټیکدارانو هم د مسعود د پلویانو باټو، درواغو او درغلیو ته خپل ښې غوږ نیولي وو او د نظارشورا نادودو ته چوپ، پټه خوله او ټیټې سترګې ناست وو.
له بده مرغه د مجاهدینو په واکمنۍ کې شهیدان هم د بازارتوکو پشان د سیالۍ ډګر کې اېښودل شوي او د سیاست د کرغېړنې لوبې ترسیورۍ لاندې راغلي دي. نظارشورا د کرزي د حکومت په مرسته اوس د هېواد شهیدان هم د مسعود د غټولو او لویولو لپاره برمته کړي او د شهیدانو اوونۍ پنوم د هیواد د ریښتینو شهیدانو څخه سیاسي ګټه پورته کيږي.

که هېوادوالو د شهید پنوم اوونۍ کې دولتي رسنیو په تېره بیا د افغانستان ملي تلویزیون خپرونو ته پام کړی وي، پوه شوي به وي چې ټولې د ملي خاین مسعود په ستاینه او ویرنه بوختې وې. د هېواد ریښتیني شهیدان له دولته هېرشوي. دولت د شهید د اولادونو، کونډو او یتیمانو په قصه کې نه دی. معلولان خو لا پرځای پرېږده !

د خیمې ویرغونډې وښوده چې د کابل حکومت د نظارشورا یرغمل دی. یرغمل اړ دی چې له مرګ څخه د ژغورنګ لپاره د یرغملګرهره غوښتنه ومنې.
خو د حیرانتیا خبره دا ده چې نظارشورا جهاد او مقاومت هم برمته کړي او هغه یوازې د ځان بولي. په جهاد کې د نورو مجاهدینو برخې ته په کمه سترګه ګوري او په مقاومت کې د هغوی ونډه په هیڅ شمېري. مجاهدینو سره د جهاد په ملاتړ او همکارۍ کې د امریکې د امنیتي سلاکار بریژینسکي او د پاکستان د ای آیس ای مرستې له یاده باسي او د طالبانو په وړاندې د مقاومت په مهال د کا جي بي او ایران سرښندنو ته هم د هیڅ په سترګه ګوري.
بلخوا په دې ورځو کې د امریکې د سناتورانو پیرزوینې او لورینې هم پر نظارشورا راماتې شوې دي. د ضیا مسعود په مشرۍ پلاوې په المان کې د امریکایي سناتورانو سره په کابل دولت کې د زیاتې ونډې او یا هم ښایې د افغانستان ویش په ونډې خبرې کوي او د عبدالله په مشرۍ پلاوی بیا په هند کې ځانګړو کړیو سره د ټرلو دروازو ترشا لیده کاته کوي. اوس د مسعود پلویانو پنجاب څخه په زدکړې سره د امریکې سیاست هم یرغمل نیولی. دوی له امریکایانو او لویدیځ څخه کابل دولت کې زیات واک غواړي، هم ترې د هېواد شمال کې زیاته برخه او هم ترې ډېرې پیسې غواړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

اوس د مسعود پلویان د مسعود له وخته ډېرې برياوې او لاسته راوړنې لري او کولای شي په هغو سره د مسعود اروا خوشحاله کړي .

دوی کولای شي د مسعود له وخته زيات د شمال وګړو او د کابل دولت په برمته توب او د هېواد د ويش په اړه پخپلو برياوو د مسعود اروا وننګوي !

همدارنګه دوی کولای شي د جهاد، مقاومت او شهيد په يرغملتوب او د لويديځ او ختيځ ، عرب او عجم څخه د پيسو په اخيستو سره هم د مسعود اروا خوشحاله کړي !

د درواغجنو او درغلګرو شهيدانو مخ دې تور وي !
د هېواد رېښتينو شهيدانو اروا دې ښاده وي !


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ